نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۴/۱۹

# جنازې او سپارښتنې

د هر انسان مرګ دردونکی وي؛ دا نو بیا بیخي له زغمه پورته وي چې په یوه ورځ، یوه کور ته، د یوې مور د درې زامنو جنازې را د ننه شي.

همداسې چم له یوې کندهارۍ ادې سره وسو. د درې چناري زامنو جنازې یې کلا ته رانوتلې. دا ځوانیمرګان د پام بدلولو لپاره د هیواد د ښایستونو ننداري ته شمال ته تللي ول؛ خو داسې ټرافیکي پېښه پرې وسوه چې د ټولې کورنۍ او دوستانو پام یې بدل کړ. داسې بدل چې هیرول به یې کلونه کلونه وخت واخلي.

تفریح د ټولو حق ده؛ زموږ د خلکو نو بیخي ستر حق دی چې خپل ځپل شوي او ستړي ذهنونه پرې ټکور کړي؛ خو د دغسې پېښو واقع کېدل، سړی دومره خوابدی کړي چې باره له کوره وتلو یې زړه موړ سي.

زه په خپل وار د دغو ځوانیمرګو له ویرجنې کورنۍ سره په دې ستر ویر کې ځان شریک ګڼم. ارمانجنو ش ه ی دو ځوانانو ته د مغفرت دعا کوم. کورنۍ، قربیانو او انډیوالانو ته یې د زړه صبر غواړم.

خو،

یو څو لنډې سپارښتنې هم لرم:

هر څوک چې په سیاحت وځي، احتیاط دې نه هیروي. دوی باید سر خلاص کړي چې بې احتیاطي نه یوازې له دوی ژوند اخیستلای سي؛ بلکې له کورنیو او دوستانو یې عمري خوشالي هم لوټلی سي.

په چیک پواینټونو کې دې سیلانیانو ته د احتیاط کولو سپارښتنې وشي.

چیک پواینټونو کې دې له امنیتي ځواکونو سره پولیس - ټرافیک، هم ودرېږي او نا بلده سیلانیانو ته دې د خطرناکو سیمو په اړه لنډ معلومات ورکړي.

په لویو لارو کې دې د احتیاط په اړه، ځای ځای لوحې ولګول شي.

او...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ